# د افغانستان بانک
# د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت
# د جواز ورکولو مدیریت

## د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د جواز د ځنډولو (تعلیق) د غوښتنلیک فورم

### عمومي لارښود:

دا فورم باید د ونډه وال/ونډه والو په شتون کې د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت د جواز ورکولو مدیریت کې د مسئول کارکوونکي پر وړاندې یا په ولایتونو کې د افغانستان بانک د اړوند زون په آمریت/ د نمایندګۍ مدیریت کې د مسئول کارکوونکي پر وړاندې لاسلیک او ګوته پرې ولګول شي. مسئول کارکوونکی باید ډاډ ترلاسه کړي چې د غوښتنلیک فورم د اړوندو سندونو او مدرکونو پر بنسټ ډک او د ونډه وال/ونډه والو لخوا لاسلیک او ګوته پرې لګول شوې.

### لومړۍ برخه: د شرکت د ځانګړنو او د جواز د ځنډولو غوښتنلیک

**د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت/د افغانستان بانک د نمایندګۍ مدیریت ته!**

زه/موږ چې پېژندنه مو په لاندې جدول کې ذکر شوې، د (______________________________) د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د ونډه وال/ونډه والو په توګه، چې د (__________________________) شمېرې جواز لرونکی او په ( / / ) نېټه مې/مو له د افغانستان بانک څخه د فعالیت جواز ترلاسه کړی وو، غواړم/غواړو چې د شرکت د فعالیت جواز له / / نېټې څخه تر / / نېټې پورې د (___________) مودې لپاره وځنډوم/وځنډوو. د یادولو وړ ده چې د دې شرکت د فعالیت جواز تر / / نېټې پورې اعتبار لري.

له همدې امله، د غیر بانکي مالي موسسو د څارنې له لوی آمریت څخه غوښتنه کوو چې د اړوندو تقنیني سندونو پر بنسټ، د شرکت د فعالیت د جواز د ځنډولو (تعلیق) په برخه کې اړینې کړنې ترسره کړي.

| شمېره | پېژندنه | | د پېژندپاڼې شمېره | د ونډې سلنه | ولایت | ولسوالی | ناحیه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | د پلار نوم | | | | | |
| ۱ | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | |

د شرکت د شته نمایندګیو لیست:

| د رسمي استازي ځانګړنې | | | د نمایندګۍ موقعیت | | | | | د جواز پر بنسټ د نمایندګۍ شمېره | د نمایندګۍ ډول | د اړیکو شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نوم | د پلار نوم | د پېژندپاڼې شمېره | ولایت | ولسوالي | ناحیه | مارکیټ | د هټۍ (دوکان) شمېره | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |

## دویمه برخه: د څنډېدو دلیلونه او د ونډه وال/ونډه والو ژمنې

**۱. د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د فعالیت د جواز د څنډېدو دلیلونه:**

أ. ________________________________________

ب. ________________________________________

ج. ________________________________________

د ټیلیفون شمېره: ____________________

برېښنالیک: ________________________________

**۲. د فعالیت د جواز د څنډېدو په برخه کې د شرکت د ونډه وال/ونډه والو ژمنې**

- زه/موږ خبر یم/یو او ژمن یم/یو چې د مرکزي دفتر د د جواز د څنډېدو په صورت کې د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د ټولو نمایندګیو (د شتون په صورت کې) فعالیت هم څنډول کیږي.
- د فعالیت د جواز د څنډېدو په جریان کې د صرافۍ او پولي خدمتونو اړوند هېڅ ډول فعالیت؛ که هغه په مرکزي دفتر کې وي او که په نمایندګیو کې، نه ترسره کوم/کوو. که چېرې موږ د څنډېدو په دوره کې خپل فعالیت ته دوام ورکړو، نو د افغانستان بانک او نورو اړوندو ادارو لخوا د هر ډول قانوني اقدام منلو ته چمتو یو.
- د فعالیت د جواز د څنډېدو د طی مراحلو په موخه، د دې شرکت د فعالیت د جواز اعتبار له شپږو میاشتو زیات دی.
- په دې فورم کې ټول لیکل شوي معلومات او ارقام په کره او سمه توګه ډک شوي دي.
- همدارنګه، ژمنه کوم چې د څنډېدو د مودې له پوره کېدو څخه (۱۵) ورځې مخکې ، د خپل جواز د تعلیق د رفع کولو غوښتنلیک د افغانستان بانک ته وړاندې کوم. پر خپل وخت د جواز د تعلیق د رفع کولو اړوند غوښتنلیک د نه وړاندې کولو په صورت کې، حاضر یم چې له ما سره د اړوندو تقنیني سندونو پر بنسټ چلند وشي.

**د ونډه والو لاسليک او د ګوتې نښې**

| نوم | د ګوتې نښه | لاسلیک | نېټه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

**دريیمه برخه: دا برخه د افغانستان بانک د مسئول کارکوونکي لخوا ډکه او بشپړيږي.**

- ☐ د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د فعاليت جواز ځنډول د غوښتل شوي مودې تر پای ته رسيدو پورې د اعتبار وړ دی او د تقنيني سندونو پر بنسټ د طی مراحلو وړ دی.
- ☐ د فعاليت د ذکر شوي جواز د ځنډېدو سندونه د تقنيني سندونو پر بنسټ طی مراحل شوي دي.
- ☐ غوښتونکی د تضمين په مبلغ کې کموالی نه لري.
- ☐ د جواز د ځنډېدو د طی مراحلو فيس د عوايدو حساب ته جمع او د آويز سند يې وراندې شوی دی.

د دې غوښتنليک په ارزولو سره او د وړاندې شوو معلوماتو او مدرکونو پر بنسټ، د غوښتونکي د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د فعاليت جواز له / / څخه تر / / نېټې پورې ځنډول کېدای شي.

د ارزوونکي کارکوونکي نوم: ______________________ د ارزونکي لاسليک: ______________________ نېټه: / /